# قحطی

څه ورانی او بربادی دی په وطن کي
بد مرغی او غبّ سختی دی په وطن کي
ما شوما نو له یو سره خوارزواک شوی
خواره نشته ډیر نیستي دی په وطن کي
یو ډالر سل افغانیو ته لوړ شوی
وچ ډوډی په شل روپی قیمتی دی په وطن کي
واکداران ټول طا لبا ن مذهبی ټول افراطیان
داچي څه پیښیږی هلته زورواکي دی په وطن کي
خرڅوی افغا ن اولاد خپل له نیستی نه
رحم نشته د چارواکو بیغوری دی په وطن کي
هر طا لب اوهر ملا دولتی ټول حاکمان
بیکار ګرځی کارپوها ن انرشي دی په وطن کي
ها چي پوه وه وطن پریښود مها جر شو
ښځی بند شوپه کورونوخودسري دی په وطن کي
افغان ژوند نه لري«مل» نادری او بی وزلی دي
دکا ر پوه ډیر بی عزتی دی په وطن کي

**

پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»

جرمنی «2021-12-15»

# یونر افغان

یوه نر که خدای پیدا کړي چي خوله مات د پنجابی کړي
افغا نی وطن پا لنه په میړانه او ځواني کړي
لر اوبر پښتا نه ټول سره یو موټي او تن کړي
د افغا ن په ټولو چارو کی بیواک پا کستا نی کړي

خود غرض چوپړ طا لبو د پنجاب دا تا لي ښتي
دوی محکوم د خلکو مخکی په جرګه دافغا نی کړي
د عربو دین فروشو بربرانو لاس کړي لنده
بیا په توره د خوشحا ل اورمیړ غوځ د وهابی کړي
د انجنو پر مخ خلاصه دروازي د ښونځی کړي
مخ را تور د حقا نیا نو تنګ نطرو دیوبندی کړي
څو دین فروشه ټیکه دار چي له دین دوکان جوړ کړي
ټول رسوا په عام او خاص په روش د قانونی کړي
مرور ټول افغا نا ن یو د بل سره پخلا کړي
له اټکه تر آمو بیا ژوندي پښتونولی کړي
(مل) هغه وخت را نژدی دی افغا نا ن ټول یوه شوی
د وحد ت او اتفاق لاری خلاص تل دایمی کړي
** پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
جرمنی 16-12-2021